مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۱۹/۱۱/۲۰

# سکندنویایي ویکنگان

# (Viking)

## (ډنمارک، ناروې او سویډن)

### لومړۍ برخه



په اوسنۍ زمانه کې د دې سیمو خلک تر ټولو نورو خلکو آرامه، انساني او هوسا ژوند لري.

د اروپا په تاریخ کې د ویکنګانو دوره هغه وخت ته ویل کېږي چې د اروپا په شمال کې په سکندنویایي هېوادونو کې له اتمې تر یولسمې میلادي سلیزې پورې (۸۰۰ ــ ۱۰۵۰م پورې) وخت سره رانغاړي. ویکنګان د «نورمنانو» پایڅوړ ګڼل کېږي. د ویکنګانو د یرغلونو په وخت کې په اروپا کې وړې ـ وړې واکدارۍ وې او د فرانسې د «کارولنژیانو» بادشاهي په جګړو اخته او د ړنګېدو په حال کې وه اروپایان تش لاسي او یوازې په کرکیلي لګیا وو. اروپا او د اروپا فیوډالي نظام د ویکنګانو د یرغل او لوټ په مقابل کې د دفاع توان نه درلود او نه یې شوای کولای چې د ویکنګانو د یرغلونو مخه ونیسي.

په ۸۰۱ ام میلادي کال کې په ژوتلند (اوسنی ډنمارک، اوسنی آغوس او آلبورګ) کې ویکنګانو یو ځواکمن مرکزي ځواک رامنځته کړ، نو ځکه یې د حرص لاسونه د سوداګرۍ او لوټ له پاره اروپایي هېوادونو ته وروغځول.

په دې دوره کې د سکندنویایي هېوادونو ویکنګان د سوداګرۍ او جګړې په ترڅ کې، د سمندر له لارې د نورو اروپایي هېوادونو په پېژندنه بریالي شول. د دې هڅو په ترڅ کې ویکنګان وتوانېدل چې د ایرلند، اناتولي، ګرینلند، د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

فارو ټاپوګان (فارو یا فارویه د هغو اتلس ټاپوګانو ټولګه ده چي اوس د ډنمارک خود مختاره سیمه ګڼل کېږي) او ځینو نورو سیمو ته ورسېږي. دغه راز سکندنویایي ویکنګانو وکولای شول چي د امریکا تر شمالي څنډو (وینلند) پورې هم ځانونه ورسوي.




ویکنګانو ځانګړی تعلیمي نظام درلود. نجوني داسي روزل کېدې چي د کور کارونه به یې زده کول: د کور کارونو سمبالول، پخلی، د بیرو جوړول، کالي مینځل، د ماشومانو ساتنه او پالنه، بنوالي او کورته سودا راوړل؛

خو هلکانو به ټول هغه څه زده کول چي په جګړه ایزو او تولیدي مسایلو پورې اړوند وو لکه: لمبا، سکي، هاکي، کرل ریبل، پښګري (لوهاړ ــ اپینګري)، غېږې لګول، د کنګل پر مخ لوبې، په غشو باندې ښکار، خیز اچول، توري وهل، نیزې اچول او نور.

ځینو ماشومانو به لوستل او لیکل زده کول. ځیني به د ډاکترانو او قاضیانو په توګه روزل کېدل، ښځو او نارینه وو به په ګډه سره سندرې ویلې، د ګوتو په شمیر نارینه وو او ښځوو به موسیقي غوږلی شوه.




د ویکنګانو الف ـ ب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د ویکنګانو په منځ کې واده کول د میندو پلرونو په واک کې و او د پېر او پلور بڼه یې درلوده. ښځو کولای شول دا خپلوي ونه مني، خو که د مور پلار د پریکړې په مقابل کې ودرېږي او د بل چا ښخه شي، له کورنۍ څخه شړل کېږي او د پلار له میراث نه محرومیږي.

ویکنګانو خپله ټولنه په دریو برخو وشلې وه:

**۱ ـ یارلز یعنې شتمن،**

**۲ ـ بوندي یعنې بزګران،**

**۳ ـ مریان.**

کله چې ویکنګان پر اروپا باندې برلاسي شول، اروپایي لیکوالو د دوی په باب ډېرې لیکنې وکړې او ویکنګان یې ډېر تند خویه او له تاوتریخوالي ډک وګڼل. د سکندونیا د تاریخ په اوږدو کې سختې ستونزې رامنځته شوې او د دې ستونزو په ترڅ کې به هغه څوک ژوندي پاتې کېدل چې ډېر کلک او زړه ور به وو او له هیڅ ډول تاوتریخوالي یې مخ نه اړاوه. همدې دود ته په کتو سره به کله کې یو ویکنګ له بل ویکنګ نه پوښتنه وکړه چې:

«په کوم دین باور لرې؟»

ځواب به داسې چې:

«زه په خپلې ځواکمنتیا بار لرم.»



د ویکنګانو جنګیالي نه د اسلامي جهادي لښکرو په څېر و او نه د مجاري لښکرو په څېر، بلکې ویکنګان د داسې جنګیالیو ټولګه وه چې د جګړې په ترڅ کې یې هر ډول ناغیړې خیانت ګڼل کېده. ویکنګان به پر خپلو کښتیو باندې سپرېدل او پر روسیې، پومراني، فریزیا، نرماندي، انګلستان، ایسلند، ګرینلند او ایتالیا باندې یرغل کاوه او خپله امپراتوري یې پسې لویوله.

د لومړۍ برخې پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ